طلوع افغان

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتیاز څښتن: د کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

په اوونۍ کې دوه واره چاپیږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، سه شنبه ۶/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق، ۳/زمري/۱۴۰۲ ل کال - ګڼه (۲۸)

Tuesday-25-July-2023 Issue 28

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: هغه څوک به تاوان نه کوي، چي استخاره کوي.
هغه څوک به پښېمان نه سي، چي مشوره کوي.
هغه څوک به محتاج نه سي، چي په مصرف کي ميانه روي کوي.

﴿رواه الطبراني﴾

د رياست الوزرا سياسي مرستيال: اسلامي امارت ټول علوم اړين بولي او په يوه سترګه ورته ګوري

د رياست الوزرا سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير په کابل پوهنتون کي د امارتي پوهنتونونو د شرعياتو پوهنځيو او اسلامي ثقافت د استادانو، دعوت او ارشاد د امامانو او مبلغينو له پاره په جوړ سوي ديني او علمي سېمينار کي ګډون او وينا وکړه او وې ويل، افغانستان ته اسلام په ډېرو قربانيو او سربښندنو راغلی او په قربانيو او سربښندنو به ساتل کېږي، چي په تېر شل کلن جهاد او قربانيو کي د هيواد ولسونو، د پوهنتون استادانو، محصلينو او علماوو برخه اخيستې او اسلامي امارت دوی په جهاد او اسلامي نظام کي شريک بولي او د اسلامي نظام ساتنه او پياوړتيا د ټولو ګډه دنده او مسئوليت دئ.

د رياست الوزرا سياسي مرستيال په قول، د افغانستان اسلامي امارت د ټولو ديني او عصري علومو د رشد او تقويې له پاره هڅې کوي، ټول علوم اړين بولي او په يوه سترګه ورته ګوري، خو دا دوې لسيزي ديني علومو ته پام نه ده سوې او تشه ډېره ده، نو بايد ډېر پام هم ورته وسي.

مولوي عبدالکبير زياته کړه، دا ثابته سوې ده، چي دين او هيواد ته هغه څوک ښه خدمت کولای سي او کړی يې دئ، چي ديني او عصري زده کړي يې کړي وي او تينګار يې وکړ، موږ داسي ډاکټر او انجنير غواړو چي د ډاکټرۍ او انجنيرۍ سره-سره د اسلام لومړني او ضروري تعليمات هم ولري او استادانو ته يې سپارښتنه ۴مخ

د اسلامي امارت مرستيال وياند: ټول مسئولين ملت ته د خپلو کړنو د راپور پر ورکولو مسئول دي

د دولت د رسنيو په مرکز کي ملت ته د دولت حساب ورکولو لړۍ پيل سوې ده.

د رياست الوزرا لوی دفتر د عامه او ستراتيژيکو اړيکو مرستيال احمدالله متقي د ياد پروګرام هدف د کړنو او لاسته راوړنو څخه ملت او نړۍوال خبرول، رسنيو ته د معلوماتي منابعو له لاري رښتيني معلومات ورکول، د ملت او دولت ترمنځ، د همکارۍ فضا پياوړې کول، د منفي او پارونکو تبليغاتو مخه نيول ياد کړی دي.

هغه له مسئولينو څخه مننه کړې، چي د رسنيو په شتون کي ملت ته حساب ورکوي او د اسلامي اصولو په نظر کي نيولو سره د بيان د آزادۍ ملاتړ کوو او هڅه يې داده، چي په هيواد کي د رسنيو فعاليتونه پياوړي کړي.

د اسلامي امارت مرستيال وياند بلال کريمي ويلي، موږ يو مسئوليت منونکی نظام لرو، چي ټول مسئولين ملت ته د خپلو کړنو د راپور پر ورکولو مسئول دي. ۴مخ

له کندهاره د وسلو د ثبت او راجسټر پروسه پيلېږي

د بيت المال د تثبيت، ثبت او مراقبت اداري مشر مولوي محمد اشرف او د يادي اداري غړو لکه: د کورنيو چارو وزارت استازي الحاج پاسوال مولوي محمد سليم حقاني، د استخباراتو لوی رياست استازي مولوي خليل احمد ابوعرفان او د ملي دفاع وزارت استازي ۴مخ

د څه باندي ۲۱ ميليونو افغانيو په لګښت سړک ورغول سو

د غور ولايت د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست مسئولينو د دې ولايت په فيروزکوه ښار کي د لس کيلو مترو سړک د رغول کېدو خبر ورکړی دئ.

د ياد ولايت د کلو، بيارغوني او پراختيا رياست مطبوعاتي مسئول ذبيح الله غوثي د باختر آژانس خبريال ته ويلي، د ۲۱ ميليونو ۷۸۱ زره ۸۶۰ افغانيو په لګښت ۱۰،۶۴ کيلو متره سړک د رغولو چاري بشپړي او ګټي اخيستني ته وسپارل سو.

د يادوني وړ ده، چي ياد سړک د څو لويو او کوچنيو کلو ترمنځ، د تګ او راتګ له پاره اسانتياوي برابري کړي دي او اوسېدونکو يې هم خوښي ښوولې.

د ترکيې د سرې مياشتي له اجرائيه رئيس سره کتنه وسوه

د ترکيې سره مياشت د سوري زړه په ناروغۍ د اخته کوچنيانو درملني ته لېواله ده

د ترکيې د سرې مياشتي رئيس د افغاني سرې مياشتي له رئيس سره په ليدنه کي ژمنه وکړه، چي دوی د سوري زړه په ناروغۍ اخته کوچنيانو درملني ته لېوال دي.

د افغاني سرې مياشتي مطبوعاتي دفتر په يوه خبرپاڼه کي ويلي، په ترکيه کي د افغاني سرې مياشتي رئيس مولوي مطيع الحق خالص د هغه هيواد د سرې مياشتي له اجرائيه رئيس سره وکتل.

په خبرپاڼه کي راغلي، په دې ۴مخ

برمې ته لوېدلي کس خپل ژوند له لاسه ورکړ

د کندهار ولايت امنيې قوماندانۍ وياند حافظ صابر ويلي، د شنبې په ورځ د ياد ولايت د نېش ولسوالۍ اړوند، د وچ مانده په سيمه کي د جمادار آکا په نامه يو ۵۵ کلن سپين ږيری شاوخوا ۸۰ متره پخوانۍ برمې ته لوېدلی و، چي د کندهار والي حاجي ملا شېرين اخند په مشرۍ د ژغورني ټيم د ياد کس د ژغورني په هدف سيمي ته ولاړی، چي د ډېرو هڅو په لړ کي ياد سپين ږيری له برمې څخه را وکښل سو، خو ژوند يې له لاسه ورکړی و.

برمې ته د لوېدلي سپين ږيري ۴مخ

يو بال MD530 ډوله هليکوپټر ترميم او الوتني ته چمتو سوه

د ملي دفاع وزارت پر خپله ټويټر پاڼه ليکلي، چي په کندهار کي د هوايي ځواک لوا د هوايي تخنيک د انجينري ټيم د دوامداره هڅو په پايله کي يو بال 530 MD ډول هليکوپټر ترميم او الوتني ته چمتو سوه.

ياده هليکوپټر چي د تېري اداري په وخت کي له فعاليته لوېدلې وه، د هوايي ځواک لوا له لوري د دوهم ۴مخ

د کندهار مجلې د ۱۴۰۲ ل کال لومړۍ ګڼه چاپ سوه

کندهار مجله د اطلاعات او فرهنګ رياست دوې مياشتنۍ خپرونه ده، چي بېلابېل ديني، علمي، سياسي، ادبي، ټولنيز او ورته نور مضامين لوستونکو ته وړاندي کوي.

په دې ګڼه کي د کندهار او سيمي د علماء کرامو، اکاډميکو استادانو، ليکوالانو، شاعرانو او خېړونکو په ټول پوره مضامين او ليکني ۴مخ

په کندهار کي له ۱۰۰۰ کورنيو سره مرسته وسوه

د کرهني رياست د کرهنيزو محصولاتو آمر مولوي شمس الرحمن موسی د شنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، د کرهني رياست تر رهبرۍ لاندي د FAO نړۍوالي مؤسسې په ښوراوک ولسوالۍ کي له ۱۰۰۰ کورنيو سره د نغدو پيسو تر څنګ، د چرګانو او حيواني خوراکي توکو مرسته وکړه.

د موسی په وينا، هڅه کوي چي د کندهار ولايت په ټولو ولسواليو کي له مالدارانو سره په بېلابېلو برخو کي اړيني مرستي وکړي.

اتفاق خانزاده لوبډلي اتحاد ته ۰-۴ ماته ورکړه

د کندهار فوټبال فدراسيون له لوري د الف لوبډلو د ګروپي ټورنمېنټ سياليو په لړ کي د شنبې په ورځ، د اتفاق خانزاده او اتحاد فوټبال لوبډلو ترمنځ لوبه وسوله.

اتفاق خانزاده لوبډله وتوانېدله، چي (۴-۰) اتحاد فوټبال لوبډلي ته ماته ورکړي.

د بل خبر له مخي د کندهار فوټبال فدراسيون رياست له خوا د الف لوبډلو د ګروپي ټورنمېنټ د سياليو په لړ کي د پنجشنبې په ورځ عينو مېنې لوبډله وتوانېدله، چي کندهار لوبډلي ته ۳ پر ۱ ګولونو ماته ورکړي.

اسيا د افغانانو په وينو ژغورل سوې ده

مولوي عبدالرحيم "غياث"

د افغانستان د بهادرو او زړورو ځوانانو، د افغانانو تېرو يرغلګرو دښمنانو (انګرېزانو او روسانو) په څېر د وخت فرعونيان (امريکايان) هم مات کړل.

د افغانستان د اسلامي امارت سياسي ټيم په قطر کي په (۱۰/حوت/۱۳۹۸ ل.ل) کي له امريکايي لوري سره ډېر فاتحانه تړون لاسليک کړ، چي له کبله يې د افغانستان څخه امريکايي اشغال ختم کړ، د نړۍ پر سياسي تاريخ دا يوه نوې زياتونه ده او د افغانستان په معاصر سياسي تاريخ کي دا درېيم لوی يرغلګر قدرت دئ، چي د افغانانو په مټ يې پښې لنډېږي.

په تفصيل سره داسي بحث پر کوو:

غېږ ايستل، د افغانانو ملي لوبه ده، له اسلام کلا، تر تورخمه، له سپين بولدکه بيا تر حيرتان بندره، ټول مېشت افغانان ور سره آشنادي. د غېږ ايستلو له پاره هډور او غوښن، خو قوي صورت اړين دئ، ترڅو د خپل قوي بدن په مټ، د غېږ نيوني پر مهال بريالی سي او خپل سيال را وپرځوي.

لسيزي وړاندي د زابل ولايت په ارغنداو ولسوالۍ کي، ګاړی ملا کشمير، په تن ګردی؛ خو غوښن، له سيمه ييزو طالبانو يو غېږ باز طالب و. د حجرې په ډوډيو لوی سوی ملا کشمير، نورو پهلوانانو د ځان سيال نه باله.

د ملا کشمير بيا د غېږ نيوني پر وخت د لينګتي (د نوموړي په اصطلاح مچکي) اچولو چل په ډېر مهارت زده و، چي په مټ يې ډېر هډور او غوښن غېږ بازان را پرځولي وو. د زابل په کچه لعلو مشهور زورور کوچي پهلوان و، چي ډېر غېږ بازان ځني بېرېدل.

په يوه اختريزه مېله کي لعلو ډېر پهلوانان را وپرزول، د مېلې په وروستيو کي ملا کشمير ټېر وټکاوه، چي لعلو ته په غېږ ورسي، ټولو ګډونوالو ته خبره د ټوکو معلومېدله، فکر يې کاوه چي د ملا کشمير اجل راغلی دئ! ټولو ټينګار پر کاوه، چي اې د حجرې ملا کشميره! ستا ګردۍ ونه او د لعلو هډين او غوښين صورت ډېر سره ليري دي! ملا کشمير په خپل پټ چل (مچکي) مطمئن و، بالاخره په غېږ ورغلی، د ټولو مېله والو له توقع خلاف، د لعلو هډين او غوښين صورت د ملا کشمير د مچکي په وړاندي بې مقاومته سو او غونډۍ غوندي صورت يې تر ګردي ملاکشمير لاندي سو. له هغې ورځې د (ملاکشمېر مچکي) ضرب المثل وګرځېدی.

زما د پلار اروابښاد نږدې ملګري (ملا عبد البصير) به ويل: "امريکايان د طالبانو په مقابله کي د ملا کشمير تر مچکي لاندي دي، ډېر ژر به را وپرځي!"

خبره مي دا کوله چي افغانان که د وخت د يرغلګرو قدرتونو په مقابل کي د تخنيک او جنګي وسايلو په اعتبار پاته دي، خو د سپېر کي ملا کشمير په څېر ټول افغانان، له خپل هيواد سره د لېونۍ ميني او پټ افغاني غرور (مچکي) لري، چي په مټ يې ډېر نړۍوال هډور، غوښن او زورور يرغلګر را پرځولي دي.

د نورو يرغلګرو خبره نه کوم، يوازي د معاصري نړۍ درې (انګرېزان، روسان او امريکايان) د وخت سوپر يرغلګر قدرتونه يې په داسي حال کي را وپرځول، چي انګرېزانو او امريکايانو (غربيانو) د ټولي آسيا د نيولو له پاره د افغانستان له شرقي لوري يرغلونه کول، ترڅو د افغانستان غربي ګاونډيان (ايران، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، ترکيه او...) تر افغانستان وروسته، ترخپټي لاندي او د هغو معادن خپل کړي او روسانو (شرقيانو) بيا په دې موخه يرغلونه کول، چي د افغانستان شرقي ګاونډيانو (هند، چين او...) ته ځان ورسوي او تودې اوبه خپلي کړي.

افغانستان چي په آسيا کي د پله حيثيت لري، هم د غربيانو او هم د شرقيانو مجبوريت و، چي د خپلي يرغليزي ارادې د تطبيق له پاره لومړی افغانستان هضم کړي، بيا به نورو آسيايي هيوادونو ته تګ کوي.

افغانانو لومړی د انګرېزانو د درو سترو يرغلونو، مقابله د ۴مخ



د طلوع افغان خبري

اسلامي امارت د عصري زده کړو پر مختګ ته ژمن دئ

د افغانستان اسلامي امارت مسئولینو په وار – وار ویلي دي، چي په افغانستان کي د دیني او عصري زده کړو د پرمختګ له پاره پوره ژمنتیا لري او په دې برخه کي د لا اسانتیاوو او فرصتونو د رامنځته کولو هڅي کوي.

په عملي ډول هم د اسلامي امارت د مسئولینو دغه ادعا ثابته سوې ده، چي په ټول هیواد کي د دیني مدرسو ترڅنګ، د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې هم پرانیستي او په ښه ډول سره یې چاري پر مخ رواني دي.

په دې وروستیو کي د ټول هیواد په کچه په دولتي پوهنتونونو کي یو شمېر نوي پوهنځي او ډیپارټمینټونه اضافه سوي، چي په اوسني اقتصادي وضعیت کي د عصري تعلیم ودې ته دومره پاملرنه دا ښیي، چي اسلامي امارت په دې برخه کي پوره– پوره ژمنتیا لري.

د افغانستان اسلامي امارت د مسئولینو ټول تمرکز پر دې دئ، چي افغانستان پرمختګ وکړي، سیاست یې خپلواک وي، اقتصاد یې پر ځان بسیا وي، صنعت او کرهڼه یې پرمختللې وي، دا هغه وخت ممکنه ده، چي زموږ ځوان کهول د دیني زده کړو ترڅنګ، په عصري زده کړو هم سمبال وي.

مثلاً: که موږ غواړو، د طب له اړخه پر ځان بسیا سو او د ګاونډیو هیوادونو له احتیاج څخه ځان خلاص کړو، نو دا اړینه ده، چي په خپل هیواد کي د طب د زده کړي له پاره ښه چاپېریال رامنځته کړو، همداسي په انجینرۍ، ډیپلوماسۍ، اقتصاد، کرهڼي، کمپیوټر ساینس او داسي نورو عصري علومو او فنونو کي لازمه ده، چي باید پر کورني تولید کار وسي، یعني افغان مستعد ځوانان باید په دې برخو کي وروزل سي.


د عصري علومو ارزښت له دې بېلګي ښه معلومېدلای سي: په مدینه منوره کي د اسلام پیغمبر حضرت محمد (ص) د لومړي وار له پاره د یوې اسلامي ټولني او دولت بنسټ کښېښاوه، نو په عصري فنونو کي یې د کفارو څخه د مخکي تګ له پاره د هر ډول مناسب فرصت څخه استفاده کوله، کله چي به د جهاد په جریان کي کفار ونیول سول او په مدینه منوره کي به بندیان سول، نو هغوی چي مالدار به نه وو او د فدیې ورکولو وس به یې نه درلودی، نو د خلاصون په بدل کي به یې د مسلمانانو کوچنیانو ته یو شمېر فنون ورښوول، لکه: د وسلو د جوړولو صنعت او داسي نور.

خو د عصري علومو د زده کړي په لاره کي یوه مسئله چي باید پاملرنه ورته وسي داده، چي د عصري علومو محصلین باید د اسلامي مفکورې پر اساس وروزل سي او هغوی ته دا ور زده کړل سي، چي د عصري علومو د زده کړو اساسي هدف پیسې او موقف نه، بلکي د اسلام او وطن ساتنه ده، ترڅو زموږ هر فارغ التحصیل یو اسلامپاله ډاکټر، انجینر، ژورنالیست او د خپل فن اسلامپاله متخصص وي، ترڅو د غرب تاثیر و نه مني او خپل مسلک د اسلام او د وطن د ګټو له پاره وقف کړي.

اداره

تر ځمکې لاندې اوبه لرونکو طبقو (Aquifers) تغذیه کول

انجینر مطیع الله "ذهین"



دا نن چي کومي اوبه د ځمکي له تل څخه را کښل کېږي، دا تر ځمکي لاندي په اوبو لرونکو طبقو (اقویفیرونه) کي د پرون او یا څو تېرو کلونو د باران جذب او زېرمه سوي اوبه نه دي، بلکي دا د ډېري اوږدې زمانې، سوونو او زرونو کلونو مخکي زمانې زېرمي دي، چي که اوسنی ظالمانه، بې رحمه، خپل سري، غیر علمي او تر حد زیات استخراج او کارونه یې همداسي دوام وکړي، بیا به هیڅکله تجدید نه سي.

په نورو هیوادونو کي تر ځمکي لاندي اوبو ته ستراتیژیکي ذخیرې وایي، چي یوازي په بحراني حالاتو؛ لکه: سخته وچکالي، زلزله، د ځمکي ښوئېدنه، طوفان او دې ته په ورته نورو سختو او بحراني حالاتو کي، چي کله د اوبو رسوني شبکې تخریب سي، را کښل کېږي، خو زموږ په هیواد کي خبره د دې ټولو خلاف ده او هر څوک کولای سي، چي څونده او څنګه یې زړه وي، په هغه اندازه اوبه د ځمکي څخه را وکاږي، دا په داسي حال کي ده، چي د اوبو د کمښت له سخت مشکل او بحران سره هم اخته دي، خو بیا هم د اوبو په استخراج، مصرف او کارونه کي سپما او احتیاط نه کوي او لویه برخه اوبه له مؤثریت پرته ضایع کوي.

زموږ په هیواد کي د اوبو او د اوبو د منابعو د ساتني او تنظیم و خورا مهمي موضوع ته د نه توجه او د اوبو څخه په سمه او دوامداره توګه د نه استفادې په سبب، تر ځمکي لاندي اوبه لرونکي طبقې تخریب او ډېري زیانمني سوي دي او د اوبو د سطحي (Water Table) د ښه ډېر کښته کېدو شاهدان هم یو.

دا اوس– اوس د هیواد لوی او د نفوسو څخه د ډکو ولایتونو (کابل، کندهار، هلمند...) ښارونه او مرکزونو او ځیني اطراف او ولسوالۍ یې هم د کښت او کروندې څه آن د څښاک د پاکو اوبو د کمښت له سخت ناورین سره مخامخ دي او که یې په اساسي او عاجل ډول غم و نه خوړل سي، نو د اوبو د نه شتون له امله به، دا بحران د ښو ډېرو کورنیو د بې ځایه کېدو او مهاجرت سبب سي.

اوس لازمه داده، چي د سطحي، تحت الارضي او ذخیره سوو اوبو، د اغېزمن او دوامداره استعمال، د اوبو د بې ځایه استخراج او مصرف د مخنیوي او د کمښت د اساسي مسئلې او مشکل د حل له پاره یې د نورو مؤثرو لارو ترڅنګ، تر ځمکي لاندي اوبو د بیا احیا او تغذیې له پاره په لوړه کچه د علمي او فني متخصصینو او تحصیلي بنسټونو په ملاتړ او مټو داسي ستراتیژیک پلان جوړ او عملي کړل سي، چي د هغه پر اساس باید تر ځمکي لاندي اوبه لرونکي طبقات (اقویفیرونه) د بېلابېلو مېتودونو او طریقو څخه په استفاده بیرته په مصنوعي ډول تغذیه او بیا ډکي سي، البته! د اقویفیرونو له لاري تر ځمکي لاندي اوبو تغذیه ښه نتیجه ورکوي، خو که اقویفیرونه تخریب سي، نو بیا ډکېدل یې نتیجه نه ورکوي.

بله مهمه خبره، چي پوهان د هغې یادونه کوي، داده چي د اوبو د سطحي په کښته کېدو سره اقویفیرونه چي تر ځمکي لاندي د خلا په بڼه او شکل موجود دي او اوبه په کښې ډنډ دي، کښېني، دغه کښېنستنه یې بیا د ځمکي د سطحي د تنزیل سبب کېږي، چي بالاخره دا حالت په یو لوی ناورین بدلېږي، چي ځمکه خپل طبیعي خاصیت په کښې بایلي.

یادونه: د ځمکي تر سطحي لاندي د اوبو تولیدوونکي طبقې ته، چي د ګټې وړ اوبه تولیدوي، اقویفیر (Aquifer) وایي او یا اقویفیر د ځمکي تر سطحي لاندي د اوبو تولیدوونکي سیمي یا طبقې ته وایي، چي د پاملرني وړ اوبه تولیدوي، د تحت الارضي اوبو زېرمي جوړوي او څاهان، چینې او کارېزونه تغذیه کوي.

د نامحرمو ترمنځ د اختلاط حکم

پوهیالی عبدالله خان "سنګري"
څلورمه برخه

د نامحرمو ترمنځ د اختلاط ضررونه او د هغه ناوړه پایلي:

۱– اختلاط د هري فتنې او فساد اساس تشکیلوي: روښانه حقیقت دئ چي اسلام یو شی نه حراموي، مګر د دې له پاره چي په هغه کي زیات ضرر وي، یا خو یې ضرر د ګټي څخه زیات وي، نو د نامحرمو نارینه او ښځو ګډون په مطلق ډول ضرر دئ، ځکه چي په جدي توګه اړتیا نه ورته لیدل کېږي.

د ښځي تعلیم او اداري کار کول، پرته د نامحرمو نارینه وو څخه هم رامنځته کېدای سي، لکه: ښځینه پوهنتون ایجادېدل او په هغه کي زده کړي کول او یا ښځینه روغتون جوړېدل، په هغه کي کار کول، نو اړتیا د ضرورت تر عنوان لاندي مشروعیت او روا والی نه سي پیدا کولای.

۲– له نامحرمو نارینه وو سره د ښځو ګډون حیا له منځه وړي: په هغه ښځه یا هغه نارینه کي به څه خیر او ښېګڼه پاته وي، چي هغه حیا و نه لري، سره د دې چي د حیا اړوند حضرت پیغمبر (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: حیا د ایمان برخه ده او د ایمان خاوندان په جنت کي دئ، بې حیایي جفا او د زړه توروالی دئ، چي هغه په اور کي وي.

۳– اختلاط د زنا لاره پرانیزي:

په اختلاط کي د زنا لاره پرانیستل کېږي، ځکه په اختلاط کي لیدل، کتل، پېژندل، په یوه شعبه کي یوازي کېدل، ټول رامنځته کېږي. د وضاحت له پاره د امریکا یو رسمي منبع احصائیه ښیي چي د ثانوي زده کړو په بهیر کي هغه نجوني چي (۱۳) کاله عمر یې نه وي پوره کړی، (۲۲٪) د خپلو همصنفیانو او استادانو له لوري له دوی سره جنسي اړیکي تر سره سوي وي، وینو چي د اختلاط په پایله کي د دې ناوړه کړني سلنه تر دې حده رسېږي، خو د دې په پرتله په اسلامي هیوادونو کي دا سلنه صفر ده، سره د دې چي په اسلامي هیوادونو کي هم وجود لري، خو د دې سلني کمښت د اسلام د دین د ارزښتونو په نظر کي نیولو سره صفر دئ.

۴– اختلاط په ښوونیزو مرکزونو او کاري ځایونو کي د ښې مؤثري زده کړي او اداري کړني څخه پاته کوي:

یو امریکایي ښوونکي ویلي: ما د امریکا په کچه (۱۴۵) هغه پوهنځی لیدلي چي نارینه وو او ښځو په ګډه زده کړي په کښې کولې، د هغوی ټولو نظرونه دا وو چي ګډ تعلیم او زده کړي هیڅ ډول مؤثریت نه لري، ځکه ښځینه محصلین د پوهنتوني زده کړو په بهیر کي د زده کړي څخه زیات وخت په سینګاري جامو او ښایستوالي تېروي.

همدغه وجه ده چي اسلام اختلاط مردود ګڼلی دئ.

۵– د اختلاط په واسطه ښځي د نارینه وو په منځ کي لوبه ګرځي:

محمد رشیدالعوید لیکلي: "نن ورځ په اروپا کي ښځي خپل ارزښت په پوره ډول له لاسه ورکړی، داسي د ذلت حالت ته رسېدلي، چي په بل هیڅ ځای کي به له دومره ذلت سره نه وي مخامخ سوي، ځکه په اروپا کي د ښځي څخه هر ډول ناوړه استفاده کېږي؛ لکه: په هوټل، رسټورانټ، تجارتي مرکزونو، هوایي ډګرونو، خوشحالۍ په محفلونو، نڅا او داسي نورو ځایونو کي د یو ډول جنس په ډول ګټه ځني اخیستل کېږي، هغه اصلي اصالت یې له لاسه ورکړی دئ، په کوم چي الله (ج) پیدا کړي او یوازنی لامل یې ګډون او اختلاط دئ.

۶– د نامحرمو نارینه وو او ښځو تر منځ، اختلاط د زړه د ناروغیو سبب کېږي: کله چي یوه ښځه په مختلطه ټولنه، لکه: په پوهنتونونو کي په مختلط ډول زده کړي او یا په یوه اداره کي کار کوي، په داسي ټولنه کي خو د ډول – ډول سیمو نوري ښځي موجودیت وي، د ټولو اقتصادي حالتونه یو شان نه وي، کله چي یوه ښځه په داسي ګډه ټولنه کي زده کړي کوي او هغه شتمنه وي، قیمتي کالي اغوندي، د طلا څخه استفاده کوي، هغه محصلین چي په صنف یا اداره کي کار ورسره کوي، د هغوی اقتصاد به د دې وړ نه وي، چي د خپل ملګري په ډول کالي اغوندي او یا په هغه اندازه طلا استعمال کړي، نو دوې لویي نیمګړتیاوي رامنځته کېږي، هغه دا چي کومه ښځه ښایسته کالي اغوندي، طلا استعمالوي، په خپل ځان فخر کوي او پر نورو ځان لوړ ګڼي. بله نیمګړتیا دا چي نوري ښځي کله د شتمني ښځي حالتویني، هغوی په ځان کي یو ډول حقارت او عاجزي احساسوي، چي په پایله کي هغوی ته د زړه ناروغي رامنځته کېږي. د دې څخه پرته، شتمني ښځي لویي غوښتني او د هغو نورو ښځو مسکنت او فقر د حسد او کینې باعث کېږي، چي د دنیا او آخرت تباهي رامنځته کېږي.

نور بیا...

ځوانان او ټولنه

ليکوال: اورنګ «صميم»

اوله برخه

ځوانان د هري ټولني د پرمختګ واک او ځواک دي، دا ځواک د ټولني د ملا تير، پياوړي متي او د انساني ژوندانه د بهير په لوړه پيمانه مرکزي او محراقي برخه ده.

ځوانان بايد د مسئوليت منلو په روحيه وروزل سي، د پرمختګ داسي انګېزه ورکړل سي، تر څو هغوی دا درک کړي، چې د نړۍ پر مخ څومره مادي او معنوي پرمختګونه رامنځته سوي دي، دا په حقيقت کي د هماغه ټولنو د ځوانانو د ځواني انرژۍ، کار، زيار او خولو تويولو پايله ده. د مځکي پر مخ د ټولو پرمختللو هيوادونو ځوانانو دا رسالت ګڼلی او درک کړی دئ، چي له نورو سره د سالم رقابت او سبقت پر بنسټ کولای سي، خپله ټولنه د ترقۍ، تمدن او پرمختګ پر لوري بوزي، خپلي سياسي، اقتصادي، ټولنيزي او کلتوري ستونزي حل کړي او په هر ډګر کي د پرمختيا پړاوونه طی کړي.

زموږ هيواد چي د تېرو څه باندي پنځه څلوېښتو کلونو په اوږده بهير کي د پرديو نيواکګرو او ښکېلاکي مغرضو کړيو د دسيسو له امله د ترقۍ او پرمختګ له کاروانه پر شا تګ کړی، يو لامل يې دادی چي زموږ ځوان نسل د هيواد پالني په روحيه نه دئ روزل سوی، د پرمختګ انګېزه نه ده ورکړل سوې، له هيوادنۍ ميني بې برخي دي، د خپلو اسلامي مقدساتو څخه هغه شان پوهه نه ده ورکړل سوې چي له دې زاويې خاوري او وطن ته د ملي ناموس په توګه وګوري، د حب الوطنۍ په فکري مدرسه کي نه دي روزل سوي، دا نه دي ورښوول سوي چي هيواد او وطن د مور مقام لري او مور هغه شتمني ده چي تر مبارکو پښو لاندي يې جنت دئ.

زموږ ځوانانو په هغه کچه چي لازمه ده، ملي ارزښتونه لا نه دي پېژندلي، ځکه چي زموږ سياستوال لا تراوسه د ملي ارزښتونو په تعريف کي يوه خوله او يوه ژبه نه دي، همدا ده چي ځوانان مو د دې ارزښتونو په وړاندي په احتياط قدم نه پورته کوي، کله نا کله د پرديو په لمس کوچنيو او شخصي موخو له پاره خپلي جګړه ځپلي ټولني او دردېدلي ولس ته داسي نه جبرانېدونکي زيانونه وراړوي چي اسلامي او انساني ټولنه يې په کړنو شرمېږي او همدا لامل دئ چي موږ په خپل ځوان نسل کي د اسلامي او کلتوري منلو اخلاقو بېلګي ډېري کمي موندلای سو، کوم چي د ټولنيزي اخلاقي پرمختيا له پاره ځواکمنه کتله جوړوي، بايد باور ولرو په هغه ټولنه کي چي اخلاق نه وي، جاهله او لار ورکې ده.

تجربو ښوولې ده، چي هره منفي پديده پر مثبتي او همدارنګه کمزورې پديده، په قوي بدلېدلای سي، که موږ د اسلام مبارک دين تر راتګ وړاندي د عربو جاهلانه ژوند ته وګورو، چي ژوندۍ لورګاني به يې ښخولې، يو تن به پر لاره پښه وغځوله، اعلان به يې وکړ، څوک زورور سته چي پښه مي له لاري ليري کړي!؟ بل به راغی او پښه به يې په توره ځني پرې کړله، دوی به د خپل جاهلانه غرور د انتهايي کبر په ښوولو، يو او بل وژل او قاتل به د مقتول په ککرۍ کي شراب څښل.

الله (ج) د عربو د دې جاهلانه تفکر د مخنيوي او پر ځای يې په دوی کي د اخلاقي مکارمو او د ورونو په څېر خپل منځ کي د ژوند تېرولو په موخه او په دوی کي د کريمانه اخلاقو د ترويج له پاره نبي کريم (ص) مبعوث کړ او دې قوم ته يې اعلان وکړ:

"انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق."

ژباړه: زه ستاسي د اخلاقي نيمګړتياوو د پوره کولو له پاره رالېږل سوی يم.

د رسول الله (ص) ۲۳ کاله دعوت او بلني پايله دا سوله، چي دا لوېدلی قوم د اسلام مبارک دين او مبارکي کلمې له برکته په ټوله نړۍ کي عزتمن سو، جهالت يې په معرفت بدل سو، دښمنۍ يې په دوستۍ بدلي سوې، کعبه شريفه له (۳۶۰) بوتانو څخه پاکه سوله، ټول سره ورونه – ورونه سول، پايله يې دا سوه چي د اسلام مبارک دين د اخلاقي نظام دا نېکمرغه نسخه يوازي د عربو په جزيرو کي محدود پاته نه سوله، بلکي د نړۍ پر مخ ډېر ملتونه د دې الهي پيغام، د ميني، ورورۍ او انسانيت له رښتيني جوهره برخمن سول او د نړۍ سرکښو واکمنانو د حق د لاري داعيانو په وړاندي د تسليمۍ ږغ پورته کړ.

باور لرم! الله الحمد؛ زموږ ټولنه هم د اسلام له مبارک دين پر پلوشو نوراني او پر دې معنويت وياړلې ده، خو له بده مرغه زموږ هيواد ته د اسلام تر راتګ وروسته، د پېړيو په پوړيو کي د دعوت د کم رنګه سلسلې له امله زموږ ټولني هم لا تراوسه له صدر اسلامه وړاندي د عربو د جاهلانه تفکر په څېر د بودايي، زردشتي او هاخامنشي دورو او زمانو جاهلانه مفکورې ساتلي او پالنه يې کوي، آن ځيني يې لا دا خرافاتي انګېرني د دين او عقيدې برخه هم ګڼي او د خپلي ناپوهۍ له امله د قرآن او سنتو په رڼا کي راغلي، سوچه ديني مفکورې سره هغه خرافاتي نامنلې دود او دستور هم ورګډوي، کوم چي تر اسلام وړاندي دود و. بله لويه ستونزه چي زموږ په ټولنه کي په پراخه پيمانه محسوسېږي، قومي، تنظيمي او سمتي کړکي، تعصبات او نفرتونه دي. نور بيا...

په جنايي څېړنو کي د هويت تثبيت

پوهيالی عبدالحی "ابراهيمي"

اوله برخه

سريزه: جرم د انسان له پيدايښت سره سم منځته راغلی او د انکشاف مختلفي مرحلې يې تېري کړي دي.

په پخوانيو وختونو کي به د جرمونو د کشف او تعقيب پروسه له خنډ سره مخ کېدله، مګر بيا هم انسانانو هويت پېژندلو ته توجه کوله او د تاريخ په بېلابېلو مرحلو کي حکومتونو د مختلفو روشونو څخه په استفادې د هويت پېژندنه کوله، په جنايي څېړنو کي د هويت تثبيتول، يو اهمه موضوع ده، په پخوانيو زمانو کي به پوليسو د مشکوک، مظنون او متهم څخه په زور اقرار اخيستی او حال دا چي مادي قناعت ورکوونکي د اثبات دلايل به موجود وو، خو دوی به دې آثارو ته نظر نه ورکول او مجرم ته به يې پر اخيستل سوي اقرار سخته جزا ور کوله. ځيني وختونه داسي هم واقع سوي، چي د پېښي په ځای کي د پېښې پلونه به چي د هر چا کور ته رسېدلي وو، نو پر ته له دې چي د پل پېژندني تخنيکي نظرياتو ته پام وسي، د کور خاوند به مجرم ګڼل کېدی او سخت مجازات به ورکول کېدل. ځيني وختونه به داسي واقع کېدله چي د يو شخص جامې او يا نور بدن به د ذبح سوي حيوان په وينه ککړ وو، نو به هم دا شخص مجرم شمېرل کېدی، ځکه چي په هغه وخت کي د انسان او حيوان د ويني توپير نه سو کېدلای، پوليسو او قضاتو په دې خاطر چي د پېښي په ځای کي له شخص سره وينه پيدا سوې ده، مجازات ورکول. په ځينو وختونو کي به يو شخص پر يو بې ګناه کس د پيسو په مقابل کي شاهدي ورکوله او قضاتو به د همدې شاهدۍ له امله ياد شخص مجرم ګڼی او سخت مجازات به يې ورکول، ځکه په هغه وخت کي قضاتو مادي قناعت ورکوونکي د الزاميه دليلونو ته توجه نه کوله، يعني ځيني وخت به داسي هم کېدل، چي کله به جرم واقع سو، نو د هغې سيمي چيري چي جرم واقع سوی دئ، مجرمين به مخکي لا معلوم وو، مثلاً: هغه چا چي لاس يا پښه يې د جرم پر اساس، له لاسه ورکړې وي، يا يې په زندان کي داغ او نښاني کړی وي، نو دوی به بيا هم مجرمين شمېرل کېدل او مجازات به ورکول کېدل، په همدې اساس هويت پېژندنه ډېره مهمه ده، نو د دې له پاره چي د هويت په اړه هر اړخيز معلومات تر لاسه کړو، ښه به وي چي لاندي موضوعات تر بحث لاندي ونيسو.

هويت پېژندنه:

د هويت تثبيت عبارت د هغه بېلوونکي نښي څخه دئ، چي له مخي يې د هر شخص هويت تثبيتېږي.

هويت د هغو صفتونو او مشخصاتو له ټولګي څخه عبارت دئ، چي يو انسان د بل انسان او يو جنس د بل جنس څخه جدا کولای سي يا په بل عبارت (Identification) يوې لاتيني کلمې څخه چي (Idem) نومېږي او د پېژندني پروسه ده، د بېلابېلو صفتونو او مشخصاتو په اساس، يو انسان له بل انسان څخه او يو شی له بل شي څخه جدا کوي، چي د هويت د تثبيت موضوع په جنايي تحقيقاتو کي ډېر مهم رول لوبوي، موږ کولای سو، چي ټول شيان د هغوی د نښو – نښانو په اساس يو له بل څخه جدا کړو چي دغه نښي په لاندي ډول دي:

الف – عمومي نښي: په دې برخه کي موږ د انسانانو او شيانو عمومي نښي تر بحث لاندي نيسو.

ب – خاصي (جزوي) نښي: په دې برخه کي مشخصي نښي تر مطالعې لاندي نيسو.

ج – ظاهري نښي: په دې برخه کي د انسانانو او شيانو رنګ، شکل، اندازه، خارجي عوارض او نور خصوصيات مطالعه کوو.

د – داخلي نښي: البته دغه نښي د انسانانو د مشخصولو له پاره نه په کارېږي، بلکي صرف د شيانو د مشخصولو له پاره استفاده ځني کېږي، يعني په دې برخه کي هغه مواد چي د هغو څخه جنس جوړ سوی وي، يعني د جنس د جوړښت او په جنس کي فزيکي، کېمياوي او بيولوژيکي خاصيت په نظر کي نيول کېږي.

هر انسان د نوم، زوی، لمسی، اصلي هستوګنځی او داسي نورو مشخصاتو لرونکي دي، چي زموږ د ګران هيواد افغانستان د تابعيت په تذکره کي هم ذکر کېږي. په جنايي مسئلو کي د هويت پر تثبيت علاوه، په نورو مسئلو کي لکه: پيدا سوی کوچنی، لېونی، پناه اخيستونکی، هغه کسان چي په غير مترقبه حالتونو کي لکه: جنګ، سېلاب، زلزله، طوفان، اورلګېدني او آسماني آفتونو کي يې خپل د هويت اسناد له لاسه ورکړي وي، د هويت پېژندل ضرور دي.

د هويت د تثبيت ګټي:

۱ – د تکراري حالت له مخي: هغه اشخاص چي د اول وار له پاره يې جرم سر ته رسولی وي، قاضي د حکم د صدور په وخت کي اسانه حالتونه په نظر کي نيسي او هغه اشخاص چي تکراري مجرم وي، نو قاضي د هغه له پاره د حکم د صدور په وخت کي سخت حالتونه په نظر کي نيسي.

۲ – له جرم څخه د نه خلاصون له مخي: کله – کله داسي واقع کېږي، چي يو شخص خپل هويت ته تغير ورکوي، تر څو د جرم څخه خپل ځان ناخبره وښيي او ځان له جزا وساتي.

۳ – د خطرناک حالت د معلومېدو له مخي: د ځينو هيوادونو په قوانينو کي د هغه چا له پاره چي خطرناک حالت ولري، ځيني محدوديتونه وضع سوي وي. لکه: د سفر کولو محدوديت، په ځينو ځايونو کي د يو څه وخت له پاره پاته کېدل، يا په ځينو دولتي پوستو کي د کار کولو محدوديت او داسي نور، د دې له پاره چي د يو شخص تکراري والی معلوم سي، د جرم له جزا څخه هم خوندي پاته نه سي او په آخر کي يې خطرناک حالت هم معلوم سي، نو د هويت تثبيت يې ضروري کار دئ. نور بيا...

شعري او آدب

د طلوع ځلانده ډيوه

غزل

احسان الله معصوم

هر خواهش دي پر پېړدي تشو د يوالو ته
زړه لړ پام کوه درلوېږم دي و پښو ته

***

څوک د يار حالونه وايي بل چا ته
کاغذونه سرې نه ږدي و اوبو ته

***

غزلونو کي مي سرې شونډي ستايلي
په ځان وياړم چي خدمت کوم پښتو ته

***

درجه د محبت يې يو په دوه کړه
مينانو! بد به نه وايو اغزو ته

***

نور د خپل ضمير له شره په امان سم
کتابونه مي راوړي دي بچو ته

***

يو "معصومه" څېره تا خپلول غواړي
يو ساده ژړي و بند دروازو ته

غزل

رحمت الله شهکار

بې وفا ډېر دي وفادار خلک بېخي کم دي
ملګري ورځ تر بلې وزن کموي کم دي

***

بې له مطلبه سلام نه دراچوي کم دي
څومره بې کاره وخت سو څومره ښه سړي کم دي

***

چي پر يار سر ورکوي دارنګه زلمي کم دي
چي په اخلاص در سره کړي انډيوالي کم دي

***

چي در ته دود کړمه هر څومره سپلني کم دي
داسي کسان چي ستا په څېر ځواني لري کم دي

***

ها چي خاطر د غمځپلو زړو ساتي کم دي
ښکلي خو ډېر دي چي زړه نه آزاروي کم دي

***

چي موافق دي له خبرو سره وي کم دي
"شهکاره!" ستا د نظريې خلک ولي کم دي؟

غزل

نور احمد "قرآن مل"

د اقبال خط مي مسير سو د مشرق و ويښتابه ته
زه غالب کډه په شا سوم د شرابو له کوڅو

***

د خيام په مينوشۍ مي داده هيلو ځاله ورانه
د حافظ له عيشي شعره سوم په تراټو له وهمو

***

د رحمان په خانقا کي تاريکو ته ډيوې بلي
د خوشحال په مستو ګفو يم بارز د حماسو

***

د حکمت په فلسفه کي ده ياري مي سنګي کرښه
د برمنو له ارواحه انګېزه د ترانو

***

په راسته لاس وتېر ته مي قرلن پر زړګي ونيو
"قرآن مل" چي د سيالانو د قطار سوم خوبانو

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! ستاسو څخه په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلي پاڼي بې ځایه و نه غورځوئ!

مسئول مدیر: بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئول: بسم الله "غـرني"
کمپوز او ډیزاین: نصیراحمد "صابر"
د مدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پته: علامه حبیبي واټ –اطلاعاتو او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 | Issue: 28 | Established in 1300 Hijri

افغان اعلانونه

پروژه عملي کوي

د کندهار ښاروالي غواړي چې د ۱۴۰۲ ل کال د انکشافي بودجې او تدارکاتي پلان پر اساس د کندهار ښار د اولي ناحیې مربوط، د عینو مېنې لېسې جنوب طرف ته د ښاروالۍ ملکیت پر خالصه مځکه دوه منزله مارکېټ د جوړولو پروژه عملي کړي. ټول هغه شرکتونه چې د دې قرارداد د سرته رسولو ورتیا ولري، کولای سي، چې خپل غوښتنلیکونه د ۱۴۰۲ ل کال د چنګاښ میاشتې د یو دېرشمې نېټې بیا د زمري میاشتي تر یو ویشتمي نېټې د شنبې تر ورځي پوري د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري، د یادي پروژې د آفر تضمین دي تحویل کړي او وروسته د آفر فورمې دي د مسئول کس څخه ترلاسه کړي او داوطلبي د روان کال د زمري میاشتي پر دریشتمه نېټه د دوشنبې په ورځ د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کې د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو په عمومي مدیریت کې صورت نیسي.

د لا زیاتو معلوماتو له پاره دې پر ذکر سوې شمېره اړیکه ونیسي: ۰۷۰۰۳۵۴۲۵۶

تعمیر په کرایه غواړي

د کندهار ولایت د احصائیې او معلوماتو ریاست (۶۰۹) ګڼه وړاندیز او د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې د (۲۶۵۱) ګڼه حکم پر اساس، دا ریاست د الیکترونیکي تذکرو د توزیع د ریم مرکز دفتر چارو د تر سره کولو له پاره غواړي، چې یو باب تعمیر د ۱۴۰۲ مالي کال له پاره د کندهار ښار په اوومه ناحیه کې په ذکر سوو شرایطو سره په کرایه ونیسي:

۱ – د دوولسو اطاقونو د درلودونکي وي.
۲ – د دوو لویو دهلېزونو درلودونکي وي.
۳ – د دوولسو تشنابونو درلودونکي وي.
۴ – د برق او اوبو فعال سیستم درلودونکي وي.
۵ – پراخه حویلي ولري.
۶ – د عمومي سړک څنګ ته وي.
۷ – د ښځینه مراجعینو له پاره جلا ځای او لاره ولري.
۸ – اشپزخانه ولري.
۹ – پراخه ساحه ولري.

ټول غوښتونکي کولای سي، چې د اعلان د نشر د نېټې څخه بیا د ۱۴۰۲ ل کال زمري میاشتي تر شپاړسمي نېټې پوري خپل غوښتنلیکونه د کندهار ولایت د احصائیې او معلوماتو ریاست ته چې په څوارلسمه ناحیه، نظم خاص کې موقعیت لري، وسپاري.

اعتبار نه لري

ماشاءالله سروري ودانیز شرکت (D-04-858)، شمېرې جواز درلودونکی دئ. رئیس یې حاجي محمد سلیم د محمد سرور زوی او مرستیال یې محمد رحیم د محمد سلمی زوی دئ، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

په کرایه یې ورکوي

یو باب کانتین چې د ګمرک ریاست په داخل کې موقعیت لري.

یاد کانتین په کرایه د قرارداد په ډول په اجاره/ کرایه ورکول کېږي. هر هغه څوک چې یاد کانتین په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۲ ل کال د اعلان د نشر څخه بیا تر یو ویشتو ورځو پوري، د مستوفیت ریاست، د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یاده داوطلبي د زمري میاشتي پر دوه ویشتمه نېټه، د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کې د املاکو په عمومي مدیریت کې تر سره کېږي، شرطپاڼه کتلای سي او تضمین نغدآ اخیستل کېږي.

(۱) مخ پاته: د ترکیې د سرې میاشتي له اجرائیه رئیس سره کتنه...

کتنه کې مولوي مطیع الحق خالص د ترکیې د خلکو د دوامداره مرستو قدرداني وکړه او د افغاني سرې میاشتي له خوا د زړه په ناروغیو د اخته کوچنیانو د درملنې، د بې سرپرسته کورنیو د پالنې، د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې او له کونډو، یتیمانو او سوالګرو سره د نغدي مرستو په اړه یې هر اړخیزي خبري کړي دي.

ورته مهال د ترکیې د سرې میاشتي اجرائیوي رئیس د افغاني سرې میاشتي د فعالیتونو د ستاینې په ترځ کې ژمنه وکړه، چې د زړه په سوري اخته کوچنیانو درملنې ته لېوال دي او په دې برخه کې به له افغاني سرې میاشتي سره همکاري وکړي.

د هغه په وینا، دوی به هڅه وکړي، څو د ترکیې د خیریه مؤسسو په همکارۍ، له افغانستان سره د دوامداره بشري مرستو پر یو منظم میکانیزم کار وکړي.

(۱) مخ پاته: د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال: اسلامي امارت ټول علوم اړین بولي او په...

وکړه، تاسو باید خپل محصلین په دې پوه کړئ چې موږ د اسلامي نظام د ټینګښت او تقویې تر څنګ، په سیاسي او اقتصادي ډګر کې هم د افغانستان د ځلولو هڅې کوو.

د هغه په وینا، اسلامي امارت له نړۍ سره مثبت تعامل او د متقابل احترام په فضا کې نېکې اړیکې غواړي، خو د اسلام پر اصولو سودا ته هیڅکله حاضر نه دئ او نه به د نورو د خوښیو له پاره اسلامي شعائر تر پښو لاندي کړي او زیاته یې کړه، اسلامي امارت اسلام په رښتیني معنی تطبیقوي، پر اسلام یوه ذره سازش هم نه زغمي او له همدې امله د اسلامي ثقافت زدکړه او اسلامي هوښیارتیا ډېره اړینه بولي.

مولوي عبدالکبیر د خبرو په آخر کې د لوړو زدکړو وزارت له مشرتابه څخه د دې سېمینار له دایرولو په مننې سره د دې ډول سېمینارونو پر دوام ټینګار وکړ.

(۱) مخ پاته: اسلامي امارت مرستیال ویاند: ټول مسئولین ملت ته د خپلو کړنو د راپور...

کریمي په نظام کې د رسنیو رول حیاتي وباله او ویلې یې دي، چې اسلامي امارت د بیان آزادۍ ته ژمن دئ او د اسلامي اصولو په نظر کې نیولو سره د رسنیو د ملاتړ تر څنګ، پوره همکار دئ.

د دې لړۍ د پیل په لومړۍ ورځ اقتصاد وزارت ملت ته خپل حساب وړاندې کړ.

د اقتصاد وزارت مسلکي مرستیال دوکتور عبداللطیف نظري ویلي، زموږ هڅه داده چې په ملي منافعو ځان بسیا کړو او له داخلي ورتیاوو ګټه واخلو او په هیواد کې د سته منابعو څخه په ګټې اخیستنې سره پر ځان بسیا سو.

هغه د نړۍ والو بازارونو پېژندنه، د هیوادونو اولیت بندي، د اقتصادي لید سند درلودل، د اقتصادي پرمختګ طرحه، افغانستان د یو اقتصادي موقعیت په توګه پېژندنه او د اقتصادي فعالیتونو قوت، د اسلامي امارت د اقتصادي ډیپلوماسۍ پیاوړي ټکي یاد کړل.

هېره دې نه وي چې تېر کال هم دغه پروګرام د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز په نوبت تر سره سو، چې د ټولو ادارو مسئولینو د تېر یو کال خپل کاري راپورونه په کنبې شریک کړي وو.

ملت ته د دولت حساب ورکولو پروګرام هر کال د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې تر سره کېږي، چې ټولي اداري د تېر یوه کال د کړنو او لاسته راوړنو راپور په کنبې د رسنیو له لاري له ملت سره شریکوي.

دا لړۍ د زمري پر اوله پیل او د دې میاشتي تر پایه به دوام ولري، چې د اسلامي امارت ټولي اداري به د تېر یوه کال حساب د رسنیو په شتون کې له ملت سره شریک کړي.

(۱) مخ پاته: له کندهاره دوسلو د ثبت او راجسټر...

مولوي عبدالحنان زاهد د یکشنبې په ورځ د کندهار له والي مرستیال مولوي حیات الله مبارک سره په لیدنه کې وویل، د عالیقدر امیرالمؤمنین شېخ صاحب حفظه‌الله د شفاهي حکم پر اساس، د افغانستان اسلامي امارت درې ګونوارګانونو «ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو عمومي ریاست» له لوري د بیت‌المال د وسلو، وسایطو او مهماتو د تثبیت، ثبتولو او راجسټر کولو په هدف یوه جامع کړنلاره جوړه سوې، چې د راتلونکي چهارشنبې په ورځ به رسماً دغه پروسه په کندهار کې پیل کړي.

د بیت‌المال د ثبت، راجسټر او تثبیت اداري مشر مولوي محمد اشرف وویل، وروسته به د هیواد ټولو ولایتونو ته د بیت‌المال د وسلو، وسایطو او مهماتو د تثبیت، ثبت او راجسټر په هدف سفرونه وکړي او زیاته یې کړه، د ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو عمومي ریاست اړوند قطعاتو او افرادو پوري تړلي ټولي خفیفه او ثقیله وسلې هغه که د فتحې څخه مخکې توزیع سوي وي او یا هم وروسته او تر څنګ یې ټول نظامي وسایل او په ډیپوګانو کې خوندي وسلې د مشرتابه مقام د لارښوونې سره سم یې دوی ثبت او راجسټروي.

وروسته د کندهار والي مرستیال د ولایتي اداري په استازیتوب یاد پلاوي ته د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ او هم یې په غونډه کې د کندهار ولایت د ټولو نظامي ادارو مسئولینو ته سپارښتنه وکړه، ترڅو له راغلي پلاوي سره د بیت‌المال د وسلو، وسایطو او مهماتو د تثبیت، ثبت او راجسټر په برخه کې اړینه همکاري وکړي.

(۱) مخ پاته: یو بال MD530 ډوله هلیکوپټر ترمیم او الوتني ته چمتو...

له پاره ترمیم او خپله ازمایښتي الوتنه یې تر سره کړله.

د کندهار د هوایي ځواک د لوا قوماندان مولوي فتح الله "منصور" د هوایي تخنیک انجینرانو هڅې وستایلې.

(۱) مخ پاته د کندهار مجلې د ۱۴۰۲ ل کال لومړۍ ګڼه چاپ...

خپره سوې دي.

د کندهار مجلې په دې ګڼه کې د نورو موضوعاتو تر څنګ، "ولې د اقتصاد علم اړین دئ!؟، د مشرانو له پاره مهمې خبري، هنر او ادب، پر اروپا د اسلام احسان، شعرونه او نور ګټور موضوعات خپاره سوي دي."

ګران مینه وال کولای سي، چې د کندهار مجلې د ترلاسه کولو له پاره اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته مراجعه وکړي او د خپلو لیکنو، شعرونو او مضامینو د خپرولو له پاره په اطلاعاتو او فرهنګ ریاست کې د مجلې مدیریت سره په اړیکه کې سي.

(۱) مخ پاته: برمې ته لوېدلي کس خپل ژوند له لاسه...

ورور محمد لعل د کندهار والي څخه د مننې تر څنګ وویل، ورور یې سهار شاوخوا اووه بجې د کوډلي له پاره شنه ځوزان کول.

د دې برمې سر په کمزوري ډول پټ سوی و، چې له امله یې ورور برمې ته ور ولوېدی او د برمې د منځ په برخه کې بند پاته و.

(۱) مخ پاته: آسیا د افغانانو په وینو ژغورل سوې...

خپل افغاني مچکي (دیني او ملي ارادې) په مټ وکړله او د انګرېزانو له شره یې د خپلو وینو په قیمت، ټوله آسیا وژغورله او کمبله یې له آسیا ټوله سوه.

بیا روسانو اراده وکړه چې تر تودو اوبو ځان ورسوي، خو د افغانانو د مچکي په مټ یې د سوپر قدرت صفر سو. ورپسې د معاصري نړۍ فرعون (امریکا) ټوله آسیا د خپل ځان ګڼله، په ډېر غرور یې لومړی د آسیا پر پله (افغانستان) حمله وکړه او د افغانستان نیول یې د ساعتونو کار ګاڼه، خو دا ستر مغرور او یرغلګر قوت هم د مبارز افغان طالب دیني او افغاني مچکي ته ټینګ نه سو، چې په را پرځولو سره یې ټوله آسیا د امریکا له دائمي شره خلاصه سوله او اوس ټولي نړۍ ته شرمېدلې ده.

داچې افغانانو په خپلو سپېڅلو وینو او غوښو، یوازې افغانستان نه، بلکې ټوله آسیا ژغورلې ده، د آسیا پر ټولو ملتونو، قومونو او هیوادونو لازمه ده چې د افغانانو شکر اداکړي، د دې پر ځای چې زموږ ګاونډیان د افغانانو په کورنیو چارو کې ناوړه مداخله وکړي، باید ملاتړ یې وکړي.